ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصـــــادي او ټـولنيـــزو مسايلـــو
پـه بـــرخـــه کـــې د رياست الوزراء
اقتصــادي معاونيــت خـــبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه ۱۴

نېټه: شنبه، د صفر المظفر ۹ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال






د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند په مـــشرۍ د اقتصادي کمیسیون نوبتي غونډه کې د افغانستان د ملي پراختیا ســـتراتیژۍ پر جوړولو تر هر اړخیز بحث وروســـته پربکړه وشـــوه، چې د ریاســـت الوزراء اقتصـــادي معاونیت په مـــشرۍ دې د اقتصادي کمیسیـــون له غړو وزارتونو او ادارو څخه یوه ګډه کمېټه جـــوړه او د ټولو امـــارتي ادارو کړنلارو او پلانونو ته په کتو دې د یادې ســـتراتیژۍ مسوده نهایـــي او د منظـــورۍ لپـــاره دې اقتصادي کمیسیون ته وړاندې کړي.

د افغانستان ملي پراختیا ستراتیژي له چمتو کولو څخه د اســـلامي امارت موخه داده چې په هېواد کې شته ستونزو ته پای ورکړي، د اسلامي احکامو پر بنســـټ حکومتولي رامنځته، د راتلونکو پنځو کلونو له پاره شـــته لیدلوري په ډاګه، لومړیتوبونه په ګوته، له شته امکاناتو څخه اعظمي ګټه پورته، بـــې وزلي راکمـــه، افغانســـتان د ســـیمه ییزي سوداګرۍ پر مرکز بدل، ملي موخو ته د رسېدو پر وړاندې له شـــته ننګونـــو سره د مقابلې په موخه اجـــماع رامنځتـــه او په هېواد کـــې د خصوصي سکتور د ودې او پراختیا له پاره زمینه برابره کړي. د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي له بشپړېدو او منظورۍ وروســـته به اســـلامي امارت پر دې وتوانېـــږي چې د راتلونکي له پـــاره خپل پلانونه چمتو کړي او له مخې یې د خپلو شته عایداتي منابعـــو پر مټ هغه ســـکتورونه چـــې پراختیا او پرمختګ ته یې اړتیا ده پر خپلو پښو ودروي. ددې ســـتراتیژۍ بلې ګټه داده چې دا ستراتیژي به له دولتي ادارو سره مرســـته وکړي، څو يادې اداري خپلې پالیســـۍ، پروګرامونه او پروژې د اسلامي امارت لـــه ټولیزو موخو سره پـــه همغږۍ کې په داســـې ډول چمتو کړي چې د یو بل بشپړونکي وي او همدارنګه به یاده ستراتیژي د ملي منابعو او عامه پانګونو اغېزناک مدیریت ته لاره هواره کړي. اســـلامي امـــارت د افغانســـتان ملـــي پراختیا ســـتراتیژۍ د جوړولو له پاره د هوډ په څرګندولو سره د هېواد د پرمختـــګ په برخه کې یو بل ګام پورتـــه کړ. ددې ســـتراتیژۍ په بشـــپړېدو به له سیاســـت څخه نیولې بیـــا تر ټولنیـــز عدالت، اقتصـــادي ودې او دېته ورته نـــورې برخې به د پرمختګ په لور رواني شي او په دې برخو کې به شته ستونزې او لومړیتوبونه معلوم شي. د ستونزو د لـــه منځه وړلو له پاره به پـــه دولتي کچه اقدام وشي او لومړیتوبونه به په پام کې ونیول شي. کله چې ستونزې یو پر بل پسې پای ومومي او کومې برخې چې لومړیتوب لري او کولای شي د هېواد پرمختـــګ تضمین کـــړي، پر هغو بـــه د پلان او پروګـــرام له مخې کار پیل شي. پـــه دې ډول به افغانســـتان په راتلونکو پنځو کلونو کې په زیاترو برخو کې پر ځان بسیا او اقتصاد به یې لا غښتلی او د پرمختګ پړاو ته ودننه شي.

# در شـــهر کابل تـــا اکنون ۳۹٦۱۵ گدا جمـــع آوری گردیده است



کمیتـــه جمع آوری گدایـــان علاوه از شـــهر کابل سلســـله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشـــور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیـــز آغاز نموده، که تا این دم هـــزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخســـت از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۳۹٦۱۵ گدا تا ۵ سنبله سال روان از ســـاحات مختلف شـــهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملۀ گدایان جمع آوری شده ۱۳۸۵۹ زن ، ٦۲۷٦ مرد و بقیه ۱۹۴۸۰طفل می باشـــند. در میـــان این اطفـــال ۷۱ تن آن بی سرپرســـت می باشـــند. اطفال بی سرپرســـت بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شـــامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشـــه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریســـت که سلســـلۀ توزیع کمک های نقدی و مـــواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در ســـایر شـــهرهای بزرگ کشـــور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.

# در نشست مورخ ۲۹ ام اسد سال روان کمیسیون اقتصادی بر ایجاد استراتیژی انکشاف ملی افغانستان فیصله به عمل آمد

## یک گام دیگری امارت اسلامی به سوی خودکفایی

در نشست مورخ ۲۹ام اسد سال روان کمیسیون اقتصادی در مورد ایجاد استراتیژی انکشاف ملی افغانستان فیصله به عمل آمد

### ارزش

استراتیژی انکشاف ملی افغانستان به مثابهٔ یک اقدام اساسی جهت تنظیم منابع طبیعی و مدیریت آن، جلب سرمایه گذاری داخلی و خارجی، توسعهٔ اقتصادی، کاریابی، حکومتداری خوب، عدالت اجتماعی، کاهش فقر، مبدل گردیدن افغانستان به مرکز تجارت منطقوی و در مجموع بخاطر رسیدن به خودکفایی یک اقدام بنیادی است.

### معرفی

- استراتیژی انکشاف ملی افغانستان برای پنج سال آینده از اهداف انکشافی ا.ا.ا است.
- این استراتیژی موضوعات مربوط به سکتور هایی را در بر دارد که امارت اسلامی با در نظر داشت منابع دست داشته و ظرفیت های خود نیاز پیشرفت آن را می بیند.
- سند مورد نظر به تمامی ادارات ا.ا کمک خواهد کرد که پالیسی ها، برنامه ها و پروژه ها خود را در هماهنگی با اهداف عمومی امارت اسلامی طوری طرح‌ریزی نمایند که تکمیل کنندهٔ یکدیگر باشد.
- همچنان این استراتیژی راه را برای مدیریت مؤثر و پایدار منابع ملی و سرمایه گذاری عامه هموار می سازد.

### اهداف

۱. حکومتداری بر اساس احکام اسلامی
۲. واضح ساختن دیدگاهٔ پنج سال آیندهٔ ا.ا
۳. در عرصه اقتصادی تعیین اولویت ها به سطح کشور و استفادهٔ اعظمی از امکانات دست داشته
٤. به منظور رسیدن به اهداف اقتصادی در سطح کشور تشکیل اجماع جهت مقابله علیهٔ چالش ها
۵. فراهم نمودن زمینه رشد و انکشاف سکتور خصوصی در کشور

ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصـادي او ټـولنيـزو مسايلـو
پـه بـرخـه کـې د رياست الوزراء
اقتصـادي معاونيت خــبري اوونيزه



# نگاهی بر اهمیت و اعمار پروژه کابل جدید

نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

کابـل، پایتخت افغانسـتان مطابق تخمین سـال ۲۰۲۰ دارای جمعیتـی حـدود ۵ میلیـون نفـر و مساحتی حدود ۱٬۰۲۳ کیلومتر مربع می باشد که در ولایـت کابل واقع شده‌اسـت. مرکز این شـهر، شـامل بافت کهنه و قدیمی آن است که مناطق پل خشـتی، کاه فروشـی، مرادخانـی، ده افغانـان، چنـداول، شـوربازار، سراجـی، زانـا خـان و بـاغ علیمردان را در بر می‌گیرد و در آن از همهٔ قومیت های اصلی افغانسـتان زنده گی می کنند. شواهد رشد شهرنشینی، حاکی از مهاجرت گسترده از سایر نقاط افغانستان به این شهر می باشد. بر این اساس کابل نـود و چهارمین شـهربزرگ جهـان و در ردهٔ پنجمین شهر جهان از نظر سرعت رشد جمعیت قرار دارد. به اسـاس رشـد روزافزون نفوس در این شهر ایجاب می کند که این شـهر وسـعت داده شود تا سـاکنان آن در فضـای امـن از لحـاظ زیسـت محیطی،رفاه یی به دور از آلوده گی محیط زیسـتی،ازدحام و مطابق به معیارهای شـهری در محیطی که شرایط عام وتام و یا نسبی رفاه ای برای شهروندانش مسـاعد باشد زنده گی نمایند. به این اساس امارت اسلامی کار اعمار پارسل دوم فاز اول پـروژه کابل جدید را که قبـلاً طراحی گردیده بود و نظر به عوامل متعـددی در آن زمان امور آن متوقف بـود، افتتـاح نمـود کـه در ایـن نوشـته پیرامون اهمیت،علت های توسعه، آغاز کار و چگونگی اعمار آن به شکل اجمالی نظر افگنده شده است.

## علت‌های توسعهٔ شهر کابل

شـهر کابل کنونی برای ۵۰۰ الی ۷۵۰هزار ساکن طراحی گردیده است. طی ۳ دهه جنگ، ساکنان این شهر در حدود ۵ میلیون افزایش یافت. حدود۱٫۸ میلیون نفر در ٦٨ فیصد شـهر کابل خارج از نقشهٔ کابل در خانه‌های خود سر زنده گی می‌نمایند؛ که بیجا ساختن این‌ها ناممکن است. شهر به مشکلات فاضلاب آب هوای تنفسی ازدیاد زباله مبتلا است. طبق مطالعات انجام شده شهر کابل کنونی پس از ۱۵ سال دارای نفوس ۸ میلیون خواهد بود؛ که برای



آن‌ها آب و هوای موجـود کافی نخواهد بود. بدین منظور ضرورت است تا شهر را وسعت داد. طرح پروژه کابل جدید بنا بر همیـن نیازمندی بوده که امارت اسلامی جهت تحقق آن شب و روز در تلاش است.

## مکثی بر آغاز کار و اهمیت پروژه کابل جدید

طرح و سـاخت پروژه جدید کابل با حل مشکلات و آرزو های میلیون‌ها شهروند افغانستان در پایتخت کشور گره خورده‌است. زیرا بیرون رفت از بحران رشد روز افـزون جمعیت، فقدان مسـکن و زیربناهای شهری، ازدیاد بیکاری و آلوده گی سرسام آور محیط زیست در شهر کابل ایجاب اعمار شهر جدید را می نماید. نتایج مطالعات مختلـف حاکی از متعادل سـاختن تراکم شـهری در کابل موجوده و تقسیم جمعیت از طریق توسـعهٔ شهری در اطراف آن بود. ولی متأسفانه اعمار این شهر مهم و ضروری که قبلاً طـرح گردیده بود، نظر به عوامـل مختلف با وجود منابع سرشار تمویل کننده خارجی در آغاز بسیار به کندی پیش میرفت و بعداً متوقف گردید. اما امارت اسـلامی با گزینش پالیسی اقتصاد محور، سعی و تـلاش خسـتگی ناپذیر جهـت رفاه و آسـایش



شــهروندان کابل، جلو گیری از ازدحام ، داشـتن محیط زیسـت سـالم، انکشاف شـهری و منابع عایداتی از طریق ایجـاد پارک‌های صنعتی برای تولید مواد سـاختمانی، صنایع کوچک و همچنان برنامه های زراعتی در شهر جدید کابل، به تاریخ ۲٦ اسد سـال روان کار فاز اول بخش دوم پروژه کابل جدید از سـوی محترم ملا عبدالغنـی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء افتتاح گردید. محترم ملا صاحب در مراسمی که به همین مناسبت تدویر گردیده بود در حاشیه سخنان خود گفت، که رهبری امارت اسلامی متعهد اسـت؛ که کشور را در قطار

ABADI weekly هفته نامه
آبادي اوونیزه
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

سایر کشور های مترقی جهان قرار دهد و در این راه طور خستگی ناپذیر سعی می نماید، که مثال خوب آن آغاز کار این پروژه است. همچنان افزود که، پروژه کابل جدید به سطح کشور یک پروژه بزرگ ملی است، که با مشارکت امارت اسلامی و سکتور خصوصی به پیش برده می شود و برای سرمایه گذاران داخلی و خارجی زمینه خوبی سرمایه گذاری را مساعد می سازد. موصوف علاوه نمود که پروژه کابل جدید آراسته به تمام سهولت های زنده گی بوده، که با تکمیل آن انتقال نفوس از شهر موجوده کابل به آن آغاز، در شهر کنونی ازدحام کاهش و از حوادث ترافیکی جلوگیری خواهد شد. قابل یاد آوری است که شهرکابل جدید نسبت به شهر کنونی کابل یک و نیم برابر اضافه تر وسعت دارد، که با داشتن مساحت ۳۷۰ هزار جریب در چهار فاز دیزاین گردیده است. امور فاز اول این پروژه در ۵ بخش در نظر گرفته شده ، که کار اعمار بخش دوم آن افتتاح شد. این بخش در ۷۴۰ کیلو متر مربع دیزاین گردیده، که برای ۱۲ هزار تن ۲۳۰۰ منزل رهایشی اعمار می گردد. کار فاز اول، بخش دوم




پروژه کابل جدید تحت نظر وزارت شهر سازی و مسکن از سوی شرکت ساختمانی خصوصی پیش برده می شود. این پروژه از ده سبز آغاز تا شکر دره، کلکان، ولسوالی قرباغ، کوهدامن و همچنان ساحه باریک آب ولایت پروان گسترش یافته است. پروژه‌ای شهر کابل جدید در دو مرحله ۱۵ ساله تطبیق می شود و در مرحله اول برای یک میلیون و ۵۰۰ هزار فرد، ۲۵۰ هزار خانه ساخته می‌شود که ساحات تجارتی، زراعتی و تفریحی هم در آن شامل است و در آن برای هزاران تن به شکل مستقیم و غیر مستقیم زمینه کار فراهم می شود. همچنان در شهر مورد نظر منطقهٔ باریک‌آب به صفت یک منطقهٔ کشاورزی-تجارتی در آن افزوده شده است. طرح اجرا مرحله‌وار ماسترپلان شهر کابل جدید در مجموع عبارتند از: تهیهٔ هشتاد هزار واحد مسکونی برای تخمیناً چهار صد هزار باشنده، توسعهٔ یک‌سوم باریک‌آب برای تولیدات زراعتی به صفت بخش تجارتی-اقتصادی شهر جدید، انکشاف زیربناها و تسهیلات عمومی اساسی شهر، احیا، حفظ و توسعهٔ اکثر قرا و دهات موجوده، ایجاد پارک مرکزی و بخشی از کمربند سبز در اطراف شهر، طرح‌ریزی فازهای دوم و سوم و ایجاد پارک‌های صنعتی برای تولید مواد ساختمانی و صنایع کوچک توسط بخش خصوصی در نواحی شهر کابل جدید می باشد.

## نتیجه گیری

رشد سریع جمعیت و مهاجرت روستا نشینان به شهر ها طی سالیانی دراز علت اصلی توسعه و تراکم بیش از حد ممکن در شهر های بزرگ گردیده است. بدین لحاظ ایجاب می نماید که تا شهر ها انکشاف داده شود و برای ساکنان محیط و محول مناسبی زنده گی فراهم گردد، بناً ضرورت ایجاد شهر های جدید در کنار سایر شهر های بزرگ با در نظر گرفتن زمینه‌های اقتصادی فرهنگی، اجتماعی و امکانات رفاهی و خدماتی به منظور به وجود آوردن شرایط زیستی مطلوب تر محراق توجه می باشد، که اینک امارت اسلامی با توجه به این اصل به تاریخ ۲۶ اسد سال روان کار بخش دوم فاز اول پروژه کابل جدید را افتتاح نمود، تا برای مردم تسهیلات لازم زنده گی شهری را فراهم و از سوی دیگر منبع عایداتی را جهت غنامندی اقتصاد از هم گسیخته کشور سراغ نماید. چنانچه با اعمار شهر جدید کابل از یک سو ازدحام در شهر کنونی کابل کاهش چشمگیری خواهد یافت، که ناشی از آن از حوادث ترافیکی جلوگیری و در رفت و آمد و گشت و گذار در شهر سهولت ها به میان خواهد آمد، از آلوده گی محیط زیستی(صوتی، زباله ها، عدم موجودیت اکسیجن کافی...) رهایی خواهیم یافت و عکس آن از نعمت یک شهر پاک و نظیف و معیاری از نگاه زنده گی شهری مستفید خواهیم شد و در مجموع شهروندان ما از نعمت مسکن یا سرپناه معیاری و فرصت های رفاهی زنده گی برخوردار گردیده و از جانب دیگر با اعمار شهر جدید کابل منابع عایداتی از بابت مالیه دوامدار از درک عرضه خدمات شهری، محصولات زراعتی باریک آب و ایجادپارک های صنعتی که در این ساحه در نظر گرفته شده است، نفع خواهد برد و مبالغ هنگفتی عاید بودجه دولت خواهد شد. همچنان در آن برای هزاران تن هموطنان ما به شکل مستقیم و غیر مستقیم زمینه کار فراهم خواهد شد.





# هېواد کې د بې کارۍ له منځه وړلو برخه کې د اسلامي امارت هڅو ته ځغلنده کتنه

ليکوال: فضل ولي شيراني

## سريزه

خواړه، جامې او استوګنځی چې د انسانانو له لومړنيو او بنسټيزو اړتياوو څخه دي، د دې توکو چمتو کول په دوامدار او ورځني ډول د انسانانو په فعاليت او کار کولو پورې اړه لري، څو د خپل کاري ځواک له لارې په دې وتوانيږي چې توکي توليد، خدمات وړاندې کړي او د خپلو نامحدودو اړتياوو پوره کولو له پاره ترې ګټه پورته کړي. خو د کار د نشتوالي او کموالي په صورت کې داسې يوڅه رامنځته کېږي چې هغې ته بې کاري وايي. بې کاري چې د اقتصاد په علم کې يو مهم بحث دی، د نړۍ په زياترو هېوادونو کې شته، خو د درېيمې نړۍ په هېوادونو کې چې افغانستان هم پکې راځي د بې کارۍ کچه لوړه ده. نو له دې امله د بې کارۍ د کچې راټيټول او په پای کې يې په بشپړ ډول له منځه وړل د دولتونو په کاري لومړيتوبونو کې ځای لري، ځکه په دې هېوادونو کې بې کاري په عمومي بې وزلۍ، اقتصادي شاتګ او د جرمونو په رامنځته کېدو تماميږي. زموږ په هېواد کې تېرو ځلوېښتو کلنو ناخوالو، د زېربناوو له منځه تلل، د ملي پانګې تالا ترغي کېدل، کډوالۍ ترڅنګ بې کاري يوه بله ستره ستونزه ده چې زموږ ځوريدلی ملت ورسره مخ دی او ددې ستونزې امله هر کال زرګونه ځوانان د سختو خطرونو په منلو سره هېواد پرېږدي او په ناقانونه ډول نورو هېوادونو ته مخه کوي.

د اسلامي امارت په بيا ځلې واکمنېدو سره هڅه داده چې د بې کارۍ کچه راټيټه، خلکو ته د کار زمينه برابره او د هغو ځوانانو د تګ مخه ونيسي چې اوسمهال په ناقانونه ډول له هېواده وځي. اسلامي امارت د اقتصادي ودې او د بې کارۍ د کچې راکمولو له پاره عملي ګامونه پورته کړي دي. د لويو لارو لکه کابل- کندهار، سالنګونو ترڅنګ يې د کانونو استخراج او يو لړ نورې زېربنايي پروژې هم تر لاس لاندې نيولې دي او له دې سره يې په لسګونو زره هېوادوالو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره شوې ده. په دې ليکنه کې غواړو د بې کارۍ د رامنځته کېدو پر لاملونو، پر کورنۍ او ټولنه يې اغېزې، په دې برخه کې د اسلامي امارت پر هلو ځلو او يو لړ نورو موضوعاتو خبرې وکړو.




## بې کاري او د هغې لاملونه

په نړۍ کې د پرمختللو هېوادونو ترڅنګ مخ پر ودې او وروسته پاتې هېوادونو کې بې کاري يوه ستره ستونزه ده. هر هېواد هڅه کوي چې د کار له پاره



تقاضا زياته کړي، څو د بې کارۍ کچه راټيټه کړي، خو لا هم ډېرې هېوادونه پر دې نه دي توانيدلي چې په بشپړ ډول دې معضلې ته د پای ټکی کېږدي. په افغانستان کې د تېرو شاوخوا څلورو لسيزو ناارامیو له امله د بې کارۍ کچه لوړه شوې چې له امله يې خلک له ګڼو اقتصادي ستونزو سره مخ وو او دي. بې کاري سربېره پر دې چې ناوړه اقتصادي پايلې لري، ټولنيزه شيرازه هم له منځه وړي. په افغانستان کې د بې کارۍ کچه اوسمهال نه ده لوړه شوې، بلکې په تېرو حکومتونو کې د بې کارۍ کچه لوړه وه. د کابل د تېرې ادارې پر مهال د بې کارۍ کچه تر ۷۰ سلنې لوړه وه، سره له دې چې زيات شمېر بهرنۍ مؤسسې، سازمانونه او ودانيز شرکتونه فعال وو. په افغانستان کې د اسلامي امارت له راتګ وړاندې بې کاري بېلا بېل لاملونه درلودل چې موږ غواړو يو څو مهمو هغو ته يې اشاره وکړو:

**اقتصادي اِتکا:** په افغانستان کې اقتصادي اِتکا اوږده مخينه لري. دا مسئله ددې باعث شوې چې دغه هېواد ونه شي کولای په اقتصادي ډګر کې هر اړخيز او ګټور پروګرامونه پلي کړي. د دغه ډول

پروګرامونو نه پلي کېدل په هېواد کې د بې کارۍ د کچې د لوړېدو یو مهم لامل بلل کېده.

**د پانګونې نشتوالی:** د امنیت نشتوالی او په هېواد کې د پانګوالو د پانګې له پاره د خوندي چاپېریال نشتوالی، برېښنا، اومه موادو، مسلکي کاري ځواک، د تولیدي پانګونې په برخه کې د دولت له لوري نه ملاتړ او داسې نور هغه لاملونه و چې په هېواد کې یې بې کاري زیاته کړې وه.

**د ترانزیټ او سوداګرۍ نه پراختیا:** سره له دې چې افغانستان په تېر کې له دې امله د سوداګرۍ په برخه کې زیات اهمیت درلود چې د وریښمو لار له دې ځایه تېره شوې وه او دا هغه لار وه چې آسیا یې له اروپا او آن افریقا سره نښلولې وه، خو د سمندري لارو د پرمختګ او پراختیا په صورت کې یې خپل موقف له لاسه ورکړ. ولې د پخواني شوروي له پاشل کېدو وروسته د منځنۍ اسیا هېوادونو له پاره د افغانستان لاره ډېره ګټوره او کم لګښته وه. دې هېوادونو له سویلي او ختیځې اسیا سره د سوداګرۍ د پراختیا له پاره افغانستان ښه لار وه، خو دا چې افغانستان د ځمکنۍ ترانسپورټ له پاره په معیار برابرې لویې لارې او اوسپنې پټلۍ نه درلودې، نو ځکه خو یې سوداګرۍ او ترانزیټ پراختیا او وده نه کړه.

**د کرنې او مالدارۍ سکټور ته نه پاملرنه:** د افغانستان ډېری خلک په مستقیم یا غیر مستقیم ډول په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. د یاد سکټور ودې ته نه پاملرنه د دې لامل شوه، چې یو شمېر خلک دغه مسلک پرېږدي او په ډېرو مواردو کې نورو کارونو ته مخه کړي.

**د خصوصي سکټور نه پیاوړتیا:** د پرمختللو هېوادونو په ګډون په نړۍ کې زیاترو هېوادونو کې خصوصي سکټور د عامه سکټور په پرتله په زیاته کچه کاري ځواک خپل لور ته جذبوي. له بده مرغه په افغانستان کې دغه سکټور دومره وده نه وه کړې چې د بېکارۍ د کچې د راکمولو لپاره پرې حساب وشي.

**د بهرنیو مرستو بندیدل:** د پخواني رژیم پر مهال د نورو بهرنیو مرستو ترڅنګ چې له بېلابېلو لارو افغانستان ته راتللې، د عادي بودیجې او پراختیایي بودیجې اکثریت برخه له بهرنیو سرچینو تمویلېده. د کابل د تېرې اداري له سقوط وروسته دغه مرستې په یو مخیز ډول بندې شوې او دغه کار د دې لامل شو چې د هېواد اقتصادي نظام د سقوط تر سرحده ورسیږي او په پایله کې د بې کارۍ کچه نوره هم لوړه شي.

**د پانګې ایستل:** په تېر حکومت کې د پراخو ناامنیو او فساد له امله زیاترو پانګوالو خپلې پانګې له هېواده وایستلې او په یوه بل هېواد کې چې خوندیتوب ولري، په کار واچولې چې له امله یې یو زیات شمېر خلک بې کاره او د بې کارۍ کچه ورسره لوړه شوه.



**د نفوس زیاتوالی او د کاري ځواک د غوښتنې کموالی:** له یوې خوا د هېواد د نفوس زیاتوالی او له بلې خوا د کارګرانو د غوښتنې کموالی په هېواد کې د بې کارۍ د زیاتوالي لامل وګرځېد.

**د هېواد کانونو نه استخراج:** سره له دې چې افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د کانونو په برخه کې یو غني هېواد دی او د کانونو ارزښت یې تر ۳ ټریلیونو ډالرو پورې اټکل شوی دی، خو د کانونو د رااېستلو په برخه کې یې د پام وړ کار نه دی شوی. ددې په خوا کې یو لړ نور لاملونه هم شته چې په افغانستان کې یې د بې کارۍ کچه لوړه کړې ده. د بېلګې په ډول کولای شو ښارونو ته د مهاجرت او د زېربناوو نه جوړېدو ته اشاره وکړو. ډېری خلک اوسمهال د کلیو او بانډو پر ځای ښارونو ته مخه کوي، ولې په ښارونو کې کاري ځواک ته تقاضا کمه ده او ډېری خلک بې کاره پاتې کېږي. دغه راز حکومتونو زېربناوو ته پاملرنه نه ده کړې، که چېرې د هېواد پر ټولو زېربناوو کار پیل شي، نو یو زیات شمېر خلکو ته به په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

## بې کاري؛ پر کورنۍ او ټولنه یې اغېزې

د اسلام په مبارک دین کې پر کار او ځان ته د حلال رزق پیدا کولو ټینګار شوی دی. نو په کار ده چې هر وګړی کار ولري. بې کاري بیا د انسان پر شخصي او ټولنیز ژوند ناوړه اغېزه کوي. کوم کس چې بې کاره وي، هغه داسې احساس کوي چې ګنې بې ارزښته دی. هر وګړی خپل ارزښت په هغه کار کې ترلاسه کوي چې دی یې ترسره کوي. همدا لامل دی هر



څوک چې بې کاره شي او کار ونه لري؛ نو هغه داسې انګیري لکه چې دی بې ارزښته دی. له بل لوري کوم کس چې کار نه لري هغه له خوښۍ او خوشحالۍ څخه هم برخمن نه وي. انسان هغه مهال خوښ وي او خپل ژوند ته هیله من وي چې کار ولري.

دغه راز کار د یو شخص د ټولنیز موقف د لوړوالي لامل ګرځي. فعال شخص په کورنۍ کې د خوښۍ او د کورنۍ نورو غړي هم د امنیت او ارامۍ احساس

کوي. خو بې کاري زياتره وخت په کورنۍ کې د ناخ و ډب او لانجــو د رامنځتــه کېدو لامــل ګرځي او اقتصادي ســتونزې د کورنۍ د غــړو ترمنځ د نظر اختــلاف زېږوي. همــدا لامل دی چــې د زياترو هېوادونو په زندانونو کې د زندانيانو د بوختيا له پاره ځيني حرفې په نظر کې نيول کېږي، څو په زندانونو کې د ناخوالو مخه ونيول شي. کار د شخص ټولنيز خوځښت او تحرک زياتوي او د هغه د پرمختګ زمينه برابروي. خو وزګار شخص بيا برعکس په ټولنه کې ګوښه کېږي او نه شي کولای چې په ټولنه کې ځان ثابت کړي. ددې ترڅنګ هغه شــخص چې کار ونه لري، زياتره يې جرمونو ته مخه کوي او په ټولنه کې د جرمونو ګراف پورته ځي. هغه ټولنې چې پکې د بې کارۍ کچه لوړه وي، هلته ټولنيز فعاليتونه په چټکۍ سره راکمېږي او د همکارۍ، د يو بل زغمل، د خبرو اترو له لارې د ســتونزو هوارولــو په څېر موضوعات خپل ماهيت له لاسه ورکوي.

په کومه ټولنه کې چې عرضه او تقاضا برابره نه وي، هلته اقتصادي وده هم نه تر سترګو کېږي. لنډه دا چې بــې کارۍ لومړی د يوې کورنـــۍ او بيا د يوې ټولنې له پاره ستر سرخوږی دی. ددې اړتيا ده چې هر حکومت بايد تر خپله وسه هڅه وکړي چې د بې کارۍ ستونزه هواره کړي. کله چې دا ستونزه هواره شــوه نو بيا هــم کورنۍ او هم ټولنه لــه هر پلوه د هوساينې احساس کوي چې دا بيا د ټولنې او په ټوله کې د يوه هېواد د پرمختګ لامل ګرځي او وګړي يې له ډېرې هغو ستونزو څخه چې د کورنۍ او ټولنې له پاره مرګوني دي، خلاصې مومي.



## اسلامي امارت او د بې کارۍ له منځه وړلو هڅې

بې کاري چې نن ورځ د نړۍ په کچه يوه ستره ستونزه ده، د ډېرې هېوادونو له پاره يې د سياسي کړکېچونو ترڅنګ ټولنيز او اقتصادي خنډونه او ناخوالې هم رامنځته کړې دي. دا مهال د هر حکومت يوازينۍ هڅه داده چې دا ستونزه له بنسټه هواره او خپل اقتصادي خوځښت ته زمينه برابره کړي. اسلامي امارت هم ددې معضلې د بنيادي حل لپاره خپل ټول تمرکز پر همدې ستونزې ور ټول کړی دی. اسلامي امارت هڅه کوي چې د بې کارۍ د رامنځته کېدو له پاره چې کوم لاملونه ياد شوي دي، ددغو لاملونو د له منځه وړلو له پاره کار وکړي او په هېواد کې د بې کارۍ ناوړه پديده په بشپړ ډول له منځه يوسي. دغه لاملونه چې اقتصادي اتکا، د پانګونې نشتوالی، د ترانزيټ او سوداګرۍ نه پراختيا، د کرنې او مالدارۍ سکتور ته نه پاملرنه، د خصوصي سکتور نه پياوړي کول، د کانونو نه استخراج، د زېربناوو نه جوړول او ځينې نور دي، اسلامي امارت پر دې توانېدلی چې په دې برخو کې پر زياترو يې کار پيل کړي. دغه راز د ترانزيټ او سوداګرۍ د پراختيا له پاره کار روان دی. ددې دواړو له پاره د معياري سړکونو جوړول او د رېل پټلۍ غځول مهم فکتورونه دي. اسلامي امارت د کابل- کندهار او سالنګونو لويو لارو د بيارغونې چارې چې دواړه يې ترانزيټ ته وده ورکولی شي او کولای شي د هېواد زياترو ولايتونو او مرکزي او سويلي آسيا ترمنځ په ترانزيټ کې آسانتياوې رامنځته کړي، پيل کړي دي. دا مهال افغانستان له منځنۍ آسيا سره د رېل پټلۍ له لارې نښلول شوی دی. بله د خواف-هرات رېل پټلۍ ده. دغه رېل پټلۍ به د ايران، افغانستان، تاجکستان، قرغزستان او چين څخه تېرېږي. ټول اوږدوالی يې دوه زره کيلومتره دی. دا رېل پټلۍ له هرات څخه په تېرېدو د افغان-تاجک پولې ته رسېږي او له تاجکستان څخه تر تېرېدو وروسته قرغزستان ته او هلته به د چين-قرغزستان-ازبيکستان (CKU) رېل پټلۍ سره نښلي. د روان ميلادي کال مې مياشتې په نهمه د لومړي ځل له پاره په ازمايښتي ډول د ايران څخه هرات ته د خواف-هرات رېل پټلۍ له لارې رېل راغی.

اسلامي امارت خصوصي سکتور ته وده ورکړې او په هره برخه کې ددې سکټور ملاتړ کوي. د افغان انويسټ شرکت جوړول د خصوصي سکټور د پراختيا او ملاتړ غوره بېلګه ده چې دا مهال د غور ولايت د تولک ولسوالۍ د سرپو کان له خلورو بلاکونو څخه د يو بلاک ګټونکی همدا شرکت دی. په همدې ډول د کورنيو توليداتو او صنعتکارانو د ملاتړ په موخه په هېواد کې دننه او له هېواده بهر نندارتونونه ددې له پاره جوړ شوي دي چې افغاني توليدات نړيوالو ته معرفي او وړ بازار ورته پيدا شي. له دې نندارتونونو څخه يې دوو هغو ته اشاره کوو. لومړی څه موده وړاندې په کابل کې د امام ابوحنيفه رح دوهم ملي او نړيوال نندارتون او دوهم يې په قزاقستان کې جوړ شوی نندارتون و چې د افغان سوداګرو او صنعت کارانو توليدات پکې نندارې ته وړاندې شول. دا ددې ښکارندويي کوي چې اسلامي امارت د خصوصي سکټور څخه بشپړ ملاتړ کوي او غواړي دا برخه په



خپلو پنبو ودربړي. په دې برخه کې اوسمهال زرګونه کسان په کار بوخت دي.

د اسلامي امارت له لوري په هېواد کې د شاوخوا ۲۰۰ کوچنیو او لویو کانونو د استخراج چارې رواني دي. ددې کانونو له جملې څخه په دې وروستیو کې د هرات ولایت د غوریانو د اوسپنې کان او د غور د تولک ولسوالۍ د سرپو کانونه دي چې په داوطلبۍ کې ګټوونکي شرکتونه یې اعلان شول. د ډېرو سکرو د کانونو په ګډون په ځینو نورو کانونو چې عملاً یې د استخراج چارې رواني دي لسګونو زرو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده. د زېربناوو جوړولو په برخه کې کولای شو د بېلګې په ډول د کابل-کندهار او سالنګونو لویو لارو بیارغونه او په هېواد کې د بخش آباد، شا و عروس، کمال خان، پاشدان بندونو او د قوش تېپې کانال جوړولو چارو پیلېدل یاد کړو. په دې برخو کې هم زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده. دغه راز اسلامي امارت سږ کال د دولتي تشکیلاتو کچه زیاته کړه او له مخې دوه سوه زره نوي کسان په دندو وګومارل شول.

کرنه او مالداري د هېواد یو مهم سکتور دی چې د افغانستان ډېرى وګړي پکې په کار بوخت دي. اسلامي امارت د کرنیزو ځمکو د پراختیا له پاره د هېواد په کچه د سترو، متوسطو او کوچنیو بندونو د جوړولو چارې پیل کړې دي چې ځینې یې بشپړ شوي او پر ځینو یې لا هم کار روان دی. ادا چې په هېواد کې تر نیمایي زیاتې ځمکې شاړې دي او کرکیله پکې نه کېږي ددې بندونو او کانالونو په جوړېدو به یې ډېره برخه په کرنیزو ځمکو بدله شي. له دې سره به د هېوادوالو له پاره هم د کار زمینه برابره شي او هم به د کرنیزو محصولاتو په برخه کې زیاتوالی راشي. کله چې د کرنې سکتور پراختیا ومومي نو طبیعي خبره ده چې د مالدارۍ برخه به هم وده وکړي.

له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د بې کارۍ معضلې ته د پای ورکولو په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي او کوم کارونه او پروژې چې اسلامي امارت پلي کوي، په دې کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول لسګونو زره کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده. که چېرې د بې کارۍ ستونزه هواره او د هېواد له بشري ځواک څخه په بشپړ ډول ګټه پورته شي؛ نو موږ به د صنعت، کرنې، سوداګرۍ، پانګونې، ترانزیټ او داسې نورو برخو کې پوره پرمختګ وکړو او له دې سره به د بې کارۍ ستونزه هم پای ومومي.



## پایله

که پورتني متن ته ځیر شو؛ نو دا به را ته په ډاګه شي چې بې کاري هغه ستره ستونزه ده چې نه یوازې پر خلکو بلکې په کورنۍ، ټولنه ان اقتصاد هم ناوړه اغېزه کوي. له دې ستونزې سره نه یوازې افغانستان مخامخ دی، بلکې د نړۍ د زیاترو هېوادونو وګړي له دې مشکل څخه کړېږي. خو حکومتونه یې پوره هڅه کوي چې دې ستونزې ته ور حل لاره پیدا کړي. په یو شمېر هېوادونو کې یې کچه کمه خو په هغو هېوادونو کې چې جګړې شوې او یا هم د نورو عواملو له مخې وروسته پاتې دي، د بې کارۍ کچه لوړه ده. افغانستان هم یو له هغو هېوادونو څخه دی چې څلور لسیزې جګړې یې تجربه کړې دي. له امله یې زیاتره زېربناوې او بنسټونه له منځه تللي دي. د کرنې او مالدارۍ په ګډون یې صنعت، سوداګرۍ، ټرانسپورټ او دې ته ورته نورې برخې سختې زیانمنې شوې دي.

خو د اسلامي امارت په راتګ جګړې پای موندلې، سرتاسري امنیت ټینګ شوی او له دې سره یو ځای د اقتصاد محوره سیاست په غوره کولو په اقتصادي برخو کې ګړندي ګامونه پورته شوي دي. سترې، متوسطې او کوچنۍ پروژې پیل شوې او د ځینو یې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. د لویو لارو د بیارغونې ترڅنګ د ولایتونو او ولسوالیو سړکونو د جوړولو چارې پیل شوې دي. ددې څخه موخه داده چې له یوه لوري د هېواد زېربناوې ورغول شي او بل ستر هدف دادی چې په هېواد کې روانه بې کاري چې خلک یې له اقتصادي ستونزو سره مخ کړي، پای ومومي. دا مهال چې کومې پروژې د اسلامي امارت له لوري پیل شوې دي، په لسګونو زره کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده او هڅه داده چې دې ستونزې ته په بشپړ ډول پای ورکړل شي.



# Advancing Self-Sufficiency: The Islamic Emirate's Bold Move



In a significant gathering on August 20, 2023, the Economic Commission made a pivotal decision: crafting Afghanistan's National Development Strategy.

## Value

This strategy is the linchpin of the Islamic Emirate's plan, focusing on the prudent management of natural assets, fostering domestic and foreign investments, spurring economic growth, enhancing employment, ensuring good governance, promoting social equity, poverty alleviation, positioning Afghanistan as a regional economic hub, and, fundamentally, achieving holistic self-sufficiency.

## Overview

The National Development Strategy of Afghanistan outlines the nation's development roadmap for the next five years. This strategy leverages existing resources to spearhead vital initiatives under the Islamic Emirate's purview. It serves as a blueprint for all Islamic Emirate departments, aligning their policies, programs, and projects with the overarching objectives of the IEA, fostering synergy. Furthermore, it sets the stage for the efficient and sustainable stewardship of national resources and public investments.

## Objectives

- Institutionalize Islamic principles in governance
- Articulate the IEA's five-year vision clearly
- Prioritize at the national level, optimizing available resources
- Foster consensus-building to surmount obstacles hindering national goals
- Catalyze private sector growth within the nation



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانیو پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۸۱,۲۵ | ؋۸۱,۳۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲۵۵ | ؋۲۵٦ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,٦٦ | ؋۱,٦۷ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۸۷,۵۰ | ؋۸۷,٦۰ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۱,۲۰ | ؋۱,۳۰ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۱۰۷۰ | ؋۱۰۸۰ |
| ۱ | انگلیسي پوند | ؋۱۰٤,۳۰ | ؋۱۰٤,۵۰ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۲۳,۵۵ | ؋۲۳.٦۵ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۲٤,۳۰ | ؋۲٤,٤۰ |
| ۱ | چیني ین | ؋۱٦,۵۰ | ؋۱٦,٦۰ |